# افغان مدني ټولنه ولسمشریزو نوماندانو ته د سولې لپاره لار نخښې وړاندې کوي

**کابل، جون ۱۰، کال ۲۰۱۴** - بی وسلې کول او ځایي قوماندانان بی ځواکه کول، په عدلي او قضایي ارګانونو او همدارنګه د پولیسو په لیکو کې د بې ساري اداری فساد او د معافیت د دود پر وړاندي مبارزه کول، قومي او قبیلوي شخړي او ناخوالي او ډله ییزی جګړي، چې د پراخو وسله والو نښتو اور ته لمن وهی، حلول، د بشري حقونو درناوي، متوازنه پرمختیا، د بنسټیزو خدمتونو آماده کول او په ټول افغانستان کې د خدمتونو برابرول، په افغانستان کې د یوي دوامداري سولي لپاره اړین دي. دغه خبره نن ورځ د مدني ټولني د شبکي د موسسو یوي ډلي په یو خپور شوي راپور کې یاده کړه.

په افغانستان کې د یوي دوامداري سولي لپاره د لار نخښي وړاندي کول (ضمیمه وکتل شي)، دغي ډلي د افغانستان پر ولسمشریزو نوماندانو باندي غږ کړي چې د لار نخښه تایید کړي او د هیواد د ټیکاو او پرمختیا لپاره هغه په هره ستراتیژي کې شامل کړي.

دغه ۴۰ پاڼیز راپور چې د افغانستان د مدني ټولني د شبکي د ۱۱ موسسو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا ترتیب شویدی، د سولي لپاره د افغان وګړو خبری اتری: د یوي پراخي سولي د پروسي لپاره د بنسټونو جوړول، د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه د ۴۶۴۸ تنو نښځو، نارینه وو او ځوانانو د نظرونو لنډیز بیانوي، د هغوي اندیښنی او نا هیلی مستندوي او په افغانستان کې د سولي د لاسته راوړلو لپاره د حل لاري وړاندیز کوي.
؛د راپور د خپرولو پر مهال د مدني ټولنو استازو وویل:؛ د خلکو ډیالوګ، مونږ ته د افغانستان د مدني ټولني په حیث دا ځواک بخښی چې د حکومت او خلکو ترمنځ د پله په ډول عمل وکړو، د خپلو خلکو غږ د هیواد راتلونکي ولسمشر ته ورسوو او عادی افغانانو ته، د ژوند د ټولو اړخونو څخه د ښځو، نارینه وو او ځوانانو په ګډون، د دغه هیواد په راتلونکي پرمختیا کې، اصلي نقش او ونډه ورکړو. د لار نخښي د خلکو پر دید او نظر باندي ولاړ او په افغانستان کې د دوامداره سولي لپاره پواځني ریښتنی ضمانت دی.

د تمرکز د ۱۸۹ډلییزبحثونه، نظرونه، سروي ګاني او انفرادي مصاحبي چې د ۲۰۱۳ کال د اپریل د میاشتي څخه پیل او د ۲۰۱۴ کال د جنوري تر میاشتي پوري دوام درلود د افغانستان د مدني ټولني له خوا تر سره شوي دي چې په هغو کې د کور میرمني، ځایی سوداګران، ښوونکي، کروندګر، زده کوونکي، د ټولني مشران او دینی عالمان، ځوانان، د پخواني وسله والو ډلو غړي (پخواني طالبان) شامل وو. راپور په ټول افغانستان کې په ځایی کچه د سولي د ساتنی په اړه د ژوندانه د ټولو اړخونو څخه د افغان ښځو، نارینه وو او ځوانانو د نظرونو او ګډون ښکارندوي دی.

؛د سولي په اړه په لار نخښی کې موندنی او د حل لاري لپاره هم د اقدام غږ شوي او هم غوښتنه شوي ده چې د سولي د رامنځته کولو په هڅو کې، د ژوندانه د ټولو اړخونو څخه ښځي، نارینه او ځوانان په اصلی مانا شامل کړاي شي. د افغانستان د مدني ټولنی استازی وویل. ؛دغه ډول یوه پراخ بنسټه پروسه نه یوازی د سولي د رامنځته کولو لپاره هري هڅي ته مشروعیت وربخښی بلکی د افغانستان د خلکو د ارادي پر بنسټ د یوي دوامداري سولي لپاره هم اړینه ده.

### د پراخ اداری فساد په وړاندي مبارزه کول

یوه ګډه موضوع چې د افغان خلکو د ډیالوګ له لاري تر غوږ شوې او په راپور کې هم بیان شوې ده، دا ده چې افغانان له خپل حکومت څخه د اداری فساد، کمزورې حکومتداری او په بشري حقونو د تیری له امله د تل پاتي معافیت په خاطر نا هیلی شوي دي. دغو فکتورونو ته د وسله والي جګړي د اصلی لاملونو په

حیث کتل شوي دي. په راپور کې ویل شوي دي چې اداری فساد د اغیزی لپاره لار هواره وي او په قضایی سیستم کې معافیت د اداری فساد فرعی محصول ګڼل کیږي.

؛فاسد حکومت په قومی لحاظ د افغانانو سره له تبعیضه ډک چلند کوي او د چارواکو په کار ګمارل د اهلیت او پوهي پر بنسټ نه تر سره کیږي. پر بشري حقونو سیستماتیک تیری روان دی چې د هغه له امله بی وزلی او د معافیت دود د ځایی شخړو لامل کیږي. په دایکندي ولایت کې د ډیالوګ برخه وال وویل. په ټول افغانستان کې ورته نظرونه د یو زیات شمېر افغانانو له خوا منعکس شوي دي.

افغان ښځو، نارینه وو او ځوانانو په تاکید سره وویل چې اړتیا ده څارنه او مساوات پیاوړي شي چې موخه یی په ځایی حکومتی موسوو‌باندي د نظارت ښه والی دی. راپور دا موندلی چې افغانان یو حساب ورکوونکي، شفاف او اغیزمن ځایی حکومت غواړي کوم چې د دوي په نظر د دوامداری سولي د تامینولو لپاره مرکزی اهمیت لري. خلکو په پیاوړي ډول د خپلواکو او غیر سیاسی تدبیرونو له لاري د فاسدو چارواکو بر طرفه کول، د اهلیت پر بنسټ د ځایی کارکوونکو په کار ګمارل او د اغیزمنو اداری طرزالعملونو د معرفی کولو په ګډون، د سمون د پروګرامونو د پلی کیدو غوښتنه وکړه.

په دغه راپور کې افغانان د خپل حکومت څخه غواړي چې د قضا د کلیدي سکتور په کارکوونکو کې عامه څارنه ډاډمنه کړي او هم د پولیسو په لیکو او د څارنوالی او محکمو په دفترونو کې د صلاحیت څخه ناوړي ګټي اخیستلو او هم د اداری فساد پر وړاندي د مبارزي په موخه بدلونونه پلی کړي.

**د امنیت ښه کول، ځایی ملیشی بی وسلی او بی ځواکه کول**

د سولي په اړوند د افغان خلکو ډیالوګ په لیري پرتو، ناامنو او د سیالیو ډکو سیمو کې د حکومت نشتون ته د وسله والو جګړو د کلیدي لاملونو په حیث کتې دي. راپور انګیرلې چې د حکومت ناتوانی چې د هیواد په زیاترو برخو کې یی په کافی اندازه ملی امنیتی ځواکونه ندي چمتو کړي، په ځینو ولایتونو لکه فراه، هرات، جوزجان او پروان کې د طالبانو او یا نورو ناوړو او ناقانونو وسله والو ډلو په بیرته راتګ کې مرسته کړي ده.

هغه افغانان چې د هیواد په نا امنو سمیو کې ژوند تیروي، اصرار کوي چې ویره او ډار د حکومتی ځواکونو د لږوالی او د طالبانو د نفوذ له امله رامنځته کیری چې په پایله کې حکومت اړ شوي دی چې د خپلو وګړو ساتنه او امنیت د بدنامه  ځایی ملیشو په مرسته تامین کړي. دغه وضعیت، د کندز ولایت د خلکو د وینا پر بنسټ، په حکومت کې بل حکومت رامنځته کړي دی چیرته چې قانون په ولایتی او یا ملي کچه نه، بلکی په ځایی کچه اداره او پلی کیږي.

د پروان ولایت د ټولنی یوه مشر وویل. "غیر مسؤلې وسله والې ډلې هر چیرته شتون لري. هغوي سوله نه غواړي ځکه دوي به خپل ځواک له لاسه ورکړي نو ځکه دوي په ټولنه کې جګړه رامنځته کوي. له بده مرغه دا یو واقعیت او د ټولنو د امنیت او سولی لپاره خنډ دی. تر هغه مهاله چې دغه ډول ډلې په شا و نه تمبول شي، سوله به یو خوب پاتي شی. "

**ځایې ګروپی شخړو او له بلوا سره د هغو رابطو ته رسیدګې**

په راپور کې افغان ځوانانو، ښځو او نارینه وو خپله اندیښنه د ژوري قومی، قبیلوې او ګروپې دښمنی په اړه څرګند کړي ده چې د افغانستان په ډیری برخو کې د ناامنی سبب شوي ده. خلکو وویل چې دغه ډول جګړو په بالقوه ډول او اکثراً د حکومت او مخالفو وسله والو ډلو تر منځ د سترو وسله والو جګړو اور ته لمن وهلې – چې هري ډلې د دي هڅه کړي تر څو ټلواله جوړه کړي، د خپل ځواک بنسټ پیاوړي کړي او وسله ټوله کړي تر څو خپله رقیبه ډله تر تاثیر لاندي راولې.

د بلخ په ولایت کې افغانانو وویل،؛ زمونږ په ولسوالی کې د جګړي اصلی لامل اوږد مهاله ګروپی دښمنی او جګړه ده. دغې مسالې زمونږ ولس اړ کړي دی چې ځینی یی له حکومت پلوه ملیشه ځواکونو سره یو ځای شي او ځینی نور یی د طالبانو په لیکو کې ودریږي. د دوي تر منځ ستري نښتی شوی دي چې له امله یی ډیری کسان وژل شوي او یا ټپیان شوي دي.

په ټول هیواد کې افغانانو وویل چې ګروپی وفاداری د سیمې د ټوټه کولو لپاره د یوه جدی ګواښ په ډول پاتې دی. دغه ډول شخړی اکثراْ د هیواد په کچه د طالبانو تر مشری لاندې د یوې بشپړی جګړې لامل شوې دی. افغانانو د حکومت څخه وغوښتل چې په محلی کچه د شخړو او جګړو پایته رسولو او حلولو ته ډیر پام وکړي او په ټولنه کې د یوالي او پخلاینې او د یوې دوامداري هراړخیزي سولییزي پروسې د تضمین له لاری د ودي په حال کې جګړو مخه ونیسې.

## په ټول افغانستان کې برابرې پرمختیا ته وده ورکول، د پوهنی لومړیتوب او د ځوانانو ځواکمن کول

راپور د اقتصادی پرمختیا او ټولنیزې برابرې نشتوالی د ناامنی د سترو لاملونو په ډول تشخیص کړل. په ټولو حوزو کې بی وزلی، ورو او نا برابره پرمختګ، او ورسره په ستره کچه بی کاری او همدارنګه د سرچنیو نا برابره تخصیص هغه خنډونه دي چې حکومت په تیرو ۱۲ کلونو کې د هغو په حل کولو کې پاتي راغلی دی.

همدارنګه افغانانو خپله جدی اندیښنه د پرمختیایی مرستو د ناوړه کارولو، بی انډوله او نابرابره ویش په اړه څرګنده کړې ده. خلکو وویل چې د ټولنیزو زیربنا ګانو او خدمتونو لکه سړکونه، پلونه، ښوونځي او د روغتیا پالنې د مرکزونو نشتون نه یوازی په با ثباته حکومتداری باندې ناوړه اغیزه کړې ده بلکې د افغانستان پر بی وزله قشر باندې د بی ساری سختیو او کړاونو لامل هم ګرځیدلې دي.

پر بی روزګاری او په ځانګړې ډول د زیاتیدو په حال کې د رایی د حق څخه په محرومو ځوانانو باندي په تمرکز کولو سره، راپور دا موندلی، چې پوهنه د امنیت لپاره یو کلیدی عنصر دی. د لغمان په ولایت کې یوه مدافع وکیل وویل.؛ ځوانان د روانی جګړې لپاره اومه مواد ګڼل کیږی، اکثره ځوانان بیکاره دي....نو ځکه دوي د جګړې لپاره په آسانی سره ګمارل کیږي.

افغانانو دا نظر درلود چې د کارموندنې او د عاید د تولید د نوښتونو په ګډون، د افغان ځوانانو پر وضعیت باندې تاکید او اصرار کول باید د راتلونکی هر حکومت لپاره د بیړنیو ملی لومړیتوبونو حیثیت ولري.؛ مونږ یو عام پند او متل لرو چې وایی د ځوان سړی ماغزه د شیطان ځاله ده. د خنډ اصلی زړی بی کاری ده او دا هغه عمومی دلیل دی چې خلګ او په ځانګړې ډول ځوانان له بلواګری سره یو ځای کوی.؛ د کندز ولایت د علی آباد ولسوالی د ټولنی یوه مشر وویل.

د هلمند په ولایت کې د ځایی شورا یوه غړې وویل؛ د خلکو نا امیدی او ناوتریخوالی ته د دوي لیوالتیا، د بنسټیزو خدمتونو له نشتوالي څخه سر چینه اخلي، هغه زیاته کړه، کم کیفیته پوهنه، بی کاری، د بنسټیزو خدمتونو لکه برېښنا او د کرهنیزو فعالیتونو لپاره اوبه او همدارنګه د ښې حکومتداری نشتوالی، جګړه هڅوي.؛ راپور د بحثونو په دوران کې په ټول هیواد کې ورته نظرونه موندلی دي.

افغان نارینه وو، ښځو او ځوانانو وویل چې د کوکنارو کښت او د ناقانونه اقتصادي پر سر د کنترول سیالي په مستقیم ډول د لوړې کچې له بی کاری او د اقتصادی فرصتونو له نشتوالي، په حکومتی موسساتو کې فساد، بی سوادي، په نشه یی توکو د ځوانانو د روږدوالی د امکان او په بی وزلو بزګرانو او زیانمنیدونکو ځوانانو باندې د وسله والو ډلو له نفوذ سره اړیکي لري.

خلکو د حکومت څخه غوښتي دي چې په فعاله توګه د کارموندلو، د کرهنیزو محصولاتو په بدیلونو، لکه مالوچ، باندې پانګه اچونه او تمرکز وکړي او تاکید یی کړي دی چې د ځوانانو لپاره د روزنیزو مرکزونو پراختیا د مخدره توکو سره د مبارزی لار ده.

## د پراخ بنسټی سوله ییزي پروسی تقویه کول او د افغانستان د سولي او بیا ګډوني د پروګرام سمون

راپور د سولې د پروسې څخه د افغان وګړو نا امیدي روښانه کوي، د عادي افغان خلکو نظرونه، هغه خلک چې باید د هر ډول سولې او جوړ جاړي د پایلو سره ژوند وکړي، له پامه غورځول شویدي او افغانانو د سولي په پروسه کې د شاملو کسانو مشروعیت تر پوښتنی لاندې نیولي دی.

زه د اوسـني سـولي پر پروسـي باندي باور نلرم ځکه دغه پروسـه د هغو کسـانو لخوا پر مخ بيول کيږی چې په تېر وخت کې د جګړي برخه وال وو. که چيري سـوله راشـي دوي به ډيری شـيان له لاسـه ورکړي.؛ د يوه پخواني جهادی قومندان دغه نظر د ډيری افغان ښځو، نارينه وو او ځوانانو له خوا، چې د خلکو د ډيالوګ په پروسه کې برخه اخيسته وه، هم اظهار شوی دی. افغانانو اصرار کړي دی چې د سولي اوسنی فعالين د دغي پروسـی سره په واقعی ډول مرسته نشي کولاي.

راپور موندلی چې افغانانو په تاکيد سره د افغانستان د حکومت د سولي او بيا ګډونه پروګرام ته د يوی ناکامی پروسـی په ډول ګوري. افغانانو د سولي د پروسـي د پروګرام له پلي کولو او همدارنګه د ټولني پر بنسـټ ولاړو له پرمختيايي پروګرامونو څخه د ګوښه کيدلو له امله خپل خفګان او غصه اظهار کړي دی. په راپور کې افغانانو دغه نظر اظهار کړيدی چې د افغانستان د حکومت د سولي او بيا ګدوني پروګرام د داسـی کسانو له خوا پر مخ بيول کيږي کوم چې د جګړي په دوام کې خپله ډيره ګټه وينی. د طالبانو پخواني جنګيالی کوم چې د افغانستان د حکومت د سولی او بيا ګډوني د پروګرام سره يو ځای شوي دي، هم د دغه پروګرام په هکله خپله نارضايتی څرګند کړي او ويلي چې دغه پروګرام په دي کې پاتي راغلي دی چې خپلی وعدي پوره کړي. دوي احساس کوي چې استعمال شوي دي، له اوړد مهاله ملاتړ څخه بی برخې پاتي شوي دی او د حکومت سره د همکاری په خاطر د طالبانو د بريد او ګواښ سره مخامخ دي.

په عمومی ډول افغانانو اصرار کړيدی چې کوم کسان چې د اوسـني سـولي په پروسه کې شامل دي نشي کولاي دوامدار سـوله ترلاسه کړي ځکه دوي د عادی افغانانو غږ او نظر له ځان سره نلري او ډيری يی خپلې ګټې د جګړي په دوام کې وينی.

افغان ښځو، نارينه وو او ځوانانو د يوي پراخ بنسټی سوله ييزي پروسـي لپاره غږ کړي تر څو دا موضوع ډاډمنه کړي چې د سولي تامين دي د افغانستان د خلکو، نه د نخبه ګانو او د قدرت د لالانو، د مشروع غوښتنو او ارادی پر بنسـټ ولاړ وي. همدا راز خلکو د حکومت څخه غوښتی دي چې دوي د افغانستان د سولي او بيا ګدوني په پروګرام کې بنسټيز سمون راولي تر څو افغانانو ته په ځايی کچه د دوامداري سوي لپاره بنسـټ جوړوونکي ونډه ورکړي.

**د بشري حقونو او ښځو د حقونو ساتنه او تقويه**

د خلکو د ډيالوګ په ټوله پروسه کې افغانانو دا تاييد کړي ده چې د بشری حقونو ساتنه او ارتقاء، د قانون د حاکميت پياوړي کول او د معافيت د دود سره مبارزه بايد د حکومت، مدني ټولنی او نړيوالي ټولنی په بنسټيزو موخو کې شامل وي. د ډيالوګ ډيری برخه والو چې د بشري حقونو په اړه يی خبري کولې د بشری حقونو د پوهاوی په اړه د ډير با کيفيته پروګرامونو غوښتونکی وو تر څو ټولنه د بشري حقونو او د ښځو له حقونو سره آشنا او بلد شي چې د ټولو په نظر له افغانی ټولني او کلتور سره سمون ولري.

؛يوازی په هغه وخت کله چې د جګړي اصلی لاملونو ته کوم چې د کلونو راهيسي زمونږ هيواد زېپلی دي (د هغو حل لارو پر بنسـټ چې د سولي لپاره زمونږ په لار نخښو کې د خلکو له خوا په ګوته شوي) په واقعی ډول رسيدګي وشي – د په افغانستان کې به حقيقی سوله او ټيکاو رامنځته شي.؛ د مدني ټولنی د شبکي يوه غړي وويل.؛مونږ د ولسمشريزو نوماندانو څخه غواړو چې زمونږ له خوا وړاندي شوي د حل لاری او لار نخښي په خپلو هڅو کې شامل کړي څو ټولو افغانانو ته دايمي سوله او ټيکاو راوړي.

**د ايډيټورانو لپاره يادداښت**

١- د راپور بشپړ پښتو، دری او انګريزی متنونه د لاندني ويب پاڼو څخه تر لاسه کولاي شئ:

www.sanayee.org.af
www.cshrn.af
www.aihrc.org.af
www.acsf.af
www.afghanwomennetwork.af

۲- د افغان خلک د سولي ډيالوګ يو نوښت دی چې په هغه کې عادی وګړي د پراخ بنسټو بحثونو له لاري د سولي د ليرليد، مصالحی، امنيت، اقتصادي پرمختيا، بشري حقونو او ښې حکومتداري په هکله خپل نظرونه څرګند کړيدي. د خلکو د ډيالوګ موخه دا ده چې عادی افغانان د سولي او مصالحی د پروسو په هکله د افغان وګړو د پوهاوي ډيرولو له لاري ځواکمن کړي او د دي ډاډ ورکړي چې د خلکو مشروع انديښني او ناهيلی اوريدل کيږي، نورو ته توضيح کيږي او په افغانستان کې د دوامداری سولي د تر لاسه کولو لپاره د پاليسي جوړونکو له خوا په ټولو پروسو کې شامليږی.

۳- يوه لاربښوده کميټه د خلکو د ډيالوګ په کار کې لار ښوونه کوي چې په هغه کې دا لاندي موسسی ګډون لري:

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د افغانی مدني ټولنو انجمن، د افغانستان د مدنی ټولنو او بشری حقونو شبکه، د افغانستان د کارګرانو ملی اتحاديه، د افغانستان د بشري حقونو او چاپيريال ساتني موسسه، د افغانستان د ښځو شبکه، د افغانستان د ښځو د مهارتونو د پراختيا مرکز، د افغانستان د ځوانانو ټولنيز فرهنګی موسسه، د آرمان شهر بنسټ، د مدني ټولني د پراختيا مرکز، د سنايی پراختيايی موسسه، د انتقالي عدالت د همغږی ډله، د ښځو د سياسی ګډون کميټه او ۵۰ سلنه کمپاين.

۴- د خلکو د ډيالوګ لومړي پړاو چې د ۷۸ متمرکزو بحثونو ډلو څخه جوړ شوی وو د افغانستان د ۳۴ ولايتو له جملي څخه په ۳۱ ولايته کې داير شوي وو چې په هغه کې ۱۵۲۶ افغان ښځو، نارينه وو او ځوانانو د بيلابيلو قومي ډلو او ټولنيز-اقتصادي شاليدونو سره ګډون کړي وو. د لومړي پړاو موندنی د سولي لپاره د افغان وګړو ډيالوګ: د يوي پراخي سوله ييزي پروسي لپاره د بنسټونو جوړول تر عنوان لاندي د يوه هر اړخيز راپور په ډول د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په مياشت کې خپور شو. د خلکو د ډيالوګ دوهم پړاو د ۲۰۱۳ کال د اپريل په مياشت کې خپور شوی دی، د لومړي پړاو د راپور په ډول، د دوهم پړاو راپور د پراخ بنسټه، شفاف او حساب ورکوونکی د سولي پروسي د ترويج په موخه د هيواد د راتلونکی سمت په اړه د خلکو د نظرونو د راټولولو له لاری پلی شوي دی. افغاني مدنی ټولني د خلکو د ډيالوګ په دوهم پړاو کې ۴۶۴۸ ښځي، نارينه او ځوانان (د پراخ بنسټه متمرکزو بحثونو ډلو په تشکيل کې ۶۷ سلنه نارينه او ۳۳ سلنه ښځي وې) شامل کړي وو چې د سولي لپاره د ځايی لار نخښنی طرحه کړي. تر دي مهاله د ۳۰ لار نخښنو طرحی جوړ شوي دي. په دواړو پړاونو کې تر ۶۰۰۰ پورته افغان ښځو، نارينه وو او ځوانانو د سولي په اړه د افغان خلکو ډيالوګ کې برخه اخيستی وه.

ضميمه

# سولې لپاره د افغانانو د ۱۰ ټکو محلی طرحې

## ۱) د ځواب ورکونکو دولتي ادارو ترویج

- د ځايي حکومتي ادارو (د پولیسو،عدلی تعقیب په ریاستونو او د قضا) په دننه کې پراخ اداري فساد او د دغو ادارو د ښه نظارت په موخه پارلمان پیاوړی نظارت ته اړتیا لري.
- په فساد باندې د ککړو دولتي چارواکو د لري کولو په موخه د خپلواکو او غیر سیاسي تدبیرونو په شمول د اصلاحي پروګرامونو پلی کولو ته اړتیا ، د ځايي حکومتي کارکونکو لپاره د روزنو او ظرفیت جوړولو د نوښتونو شدیدول، په هغو ولایتونو کې چېرې چې دا ډول کارونه ایجاد شوی په هغو کې مشروع نوماندانو ته لومړیتوب او د ځايي حکومتي چارواکو د شفافو او د وړتیا پر اساس د ټاکل کیدو څخه ډاډ او د لا موثره اداري طرزالعملونو معرفي.
- د مکافاتو او مجازاتو په درلودلو سره باید د سرته رسونی پر بنسټ ولاړ سیستم معرفي شي. دا به د ښه کار ترسره کونکی چارواکی څرګند کړي او هغه کسان چې په فساد کې ښکیل دی ورټی.

## ۲) د امنیتي ادارو پیاوړتیا

- د حکومت محدود لاسرسی د داسې لامل په حیث پیژندل شوی چې له امله یی حکومت نه په خپله خاوره کنترول او نه د دې توان لري چې شخړې په سوله ییزه توګه حل کړي. افغانانو په ټولیز ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اصلاحاتو او پیاوړتیا په هکله د پرمختګ تصدیق کړی او په افغان ملي پوځ یې د زیات باور راپور ورکړي. افغانانو د افغان ملي پولیسو،افغان سیمه ییزو پولیسو او حکومت پلوه ملیشاوو لخوا د بشري حقونو د جدي سرغړونو په شمول د جنايي او ناوړه سلوک په هکله جدي اندېښنې څرګندې کړې دی.
- د دې په خاطر چې موثره، ځواب ورکونکی او دیموکراتیک امنیتي ځواکونه را منځ ته شي، د خلکو دیالوګ د امنیتي ادارو د وظایفو د را منځ ته کولو او غځولو وړاندیز کړی.
- افغانانو د دوامداره نړیوال ملاتړ په اړتیا تاکید کړی څو د ټولنې پر اساس ځواب ورکونکی او مسلکي افغان ملي امنیتي ځواکونه را منځ ته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنی او تجهیز په برخه کې د دوامداره ملاتړ او همکاري په هکله تاکید شوی څو د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت پیاوړی شي او وکولای شي د ۲۰۱۴ کال په پای کې د هیواد څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو وروسته په هیواد کې امنیت تامین کړي.
- د دې په خاطر چې په افغان امنیتي ځواکونو باور زیات شي،خلکو د موثره نظارتی میکانیزم د جوړولو وړاندیز وکړ څو ځايي ټولنې وکولای شي د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو په هکله راپور ورکړي او ناقانونه عملونه وڅیړی او مرتکبینو ته سزا ورکړي.

## ۳) د ناقانونه وسله والو ډلو او نورو حکومت پلوه حکومتي ملیشاوو بې وسلې کول او هغوي بې واکه کول

- په ځايي حکومتي ادارو باندې د قدرت د ځايي دلالانو او جګړه مارو د غیر مشروع نفوذ د پای ته رسولو په اهمیت ټینکار. خلکو څرګنده کړې چې دا عمل به د ولسوالی په کچه سوله او ټیکاو پیاوړی کړي. افغانانو د هیواد په کچه د نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو پروګرام چې د حکومت لخوا د ۲۰۰۵ کال په جنوری کې پیل او د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې پای ته ورسید د بیا معرفي کولو غوښتنه کړې.

- افغانانو ټينګار کړی چې د ترياکو کښت، د مخدره توکو قاچاق او د مخدره توکو د قاچاق چيانو لخوا ناقانونه شکونی په يو شمير زياتو سيمو کې شخړې جاری ساتلی او تشديد کړې. خلکو ويلی چې د ترياکو کښت،پروسس او د مخدره توکو د قاچاق څخه ترلاسه شويو عايداتو او همدارنګه د مخدره توکو اعتياد په مستقيمه توګه افغان شورشي ډلو او ځايي مليشاوو ته ګټه رسولې. خلکو په دغو ډلو تور لګولی چې په مستقمه توګه په لري پرتو سيمو کې چېرې چې ناقانونه اقتصاد وده کړې ناامنی را منځ ته کړي.
- افغانانو د حکومت څخه غوښتنه کړې څو د مخدره توکو د ناقانونه سوداګری او د دې سوداګری څخه د ترلاسه شويو عايداتو له منځه وړلو ته لومړيتوب ورکړي او په هغو سيمو کې افغان ملي امنيتي ځواکونه ځای پر ځای کړي چېرې چې د مخدره توکو سوداګری وده کړې څو د ياغيانو د فعاليتونو مخه ونيسی او ناقانونه وسله والی ډلی له واکه لري کړي.

**۴) د بشري حقونو او د قانون د حاکميت وده او د معافيت له منځه وړل**

- افغانانو په کلکه دفاع کړې چې افغان حکومت او نړيواله ټولنه بايد داسې عملي ګامونه پورته کړي تر څو د ياغيتوب په وړاندی د پوځي عملياتو پر مهال د ملکی کسانو د امنيت او خونديتوب څخه ډاډ حاصل شي او همدارنګه په دی زمينه کې د هغوي د اساسی بشري حقونو ساتنه وکړي. افغانانو د قانون د پياوړی حاکميت،شفافيت، حسابورکونی او موثره حکومتي ادارو د درلودلو او په هيواد کې د معافيت د ميراث د پای ته رسولو لپاره خپل نظريی بيانی کړي.
- د افغانانو لوی اکثريت چې د خلکو د ډيالوګ په مباحثو کې ښکيل وه، وړانديز کړی چې د قانون د انفاذ او قضايي سيستم اصلاحات بايد د پايښت لرونکی سولې د تامين په موخه د هر ډول هڅو په مرکز کې واقع شي. د عدلی ادارو د خپلواکی څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د مناسب نظارت تر څنګ،هغوي د عدالت د کليدی سکټور د کارکونکو،د جامع قوانينو د جوړولو او جاری کولو او د موسساتی او طرزالعملي بدلونونو چې موخه يې د عدلی سکټور د ادارو په دننه کې د اداري فساد او صلاحيت څخه د ناوړه کارونی په وړاندی مبارزه ده، د بررسی وړانديز کړی.

**۵) د سولې جوړونې په فعاليتونو کې د ښځو د حقونو وده او د هغوي نقش**

- د هيواد په کچه خلکو د حکومت او نړيوالی ټولنې څخه د چټکو عملونو غوښتنه کړې څو داسې تدبيرونه خپل کړي چې د ښځو د بشري حقونو په هکله د ضرر لرونکو دوديزو فعاليتونو منفي اغيزې ختمی کړي او ښځو ته اجازه ورکړي چې د سولې ساتنې په ټولو نوښتونو کې برخه واخلي.
- افغانانو په حکومت غږ کړی څو د ښځو او نجونو په وړاندی د ضررلرونکو فعاليتونو په هکله په ټولو ټولنو کې د پوهاوی د لوړولو په موخه په فعالانه ډول کار وکړي او د ښځو په وړاندی د خشونت د له منځه وړلو د ۲۰۰۹ کال د قانون د بشپړ پلی کولو په موخه کار وکړي. زياترو افغانانو توافق کړی "موږ به اجازه ور نه کړو چې( د سولې د تامين هر ډول هڅی د يوی برخی په حيث) د ښځو حقونه او يا بشري حقونه قربانی شي."

**۶) د کاری فرصتونو د ايجاد او د معارف د سيستم د پياوړی کولو له لارې د ځوانانو وړتيا**

- افغانانو د زياتی اندېښنې په درلودلو سره يادونه کړې چې طالبان او نورې وسله والی ډلی په اسانی سره کولای شي هغه ځوانان چې وزګار دی او ښه کارونه نه لري په دندو وګماری. خلکو

د مسلکي مهارتونو د روزنو د مرکزونو د جوړولو او همدارنګه د کارونو د را منځ ته کولو د پروسې، په تعمیراتی او پراختیایي پروژو کې د لا زیاتې پانګونې په شمول په اړتیا ټینګار کړی.

- نارینه وو،ښځو او ځوانانو همدارنګه د حکومت څخه غوښتنی څو د ځوانانو لپاره د معارف لا فعاله او موثره سیسټم چې په هغه کې مناسبه زیربنا او کیفیت لرونکی مشقونه شامل وی، را منځ ته کړي. افغانانو ټینګار کړی چې ښه تعلیمي زیربنا به د اضافی زده کونکو د ځای په ځای کولو د مسلې سره مرسته وکړي.
- افغانانو د حکومت څخه غوښتنی څو په هغو ولسوالیو کې چېرې چې د وسله والو ډلو شتون د نجونو د زده کړې حقونه تر پښو لاندی کوي داسې هځیطرحې ته واچوی، څو ښوونځی بیا پرانیزی.
- د معارف د ښه کیفیت څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ښوونکو د ظرفیت د لوړولو، د عصري نصاب را منځ ته کولو او د ساینس او تکنولوژی په شمول، په خاص دول د زده کونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه، لازمو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي.

## ۷) د مساوي ټولنیزي او اقتصادی پراختیا تحقق

- افغانانو د اقتصاد او ټولنیزي پراختیا په ډګرونو کې، د معارف د سیسټم د پیاوړتیا په موخه د ریښتینو هڅو،د کاری فرصتنو د را منځ ته کولو او پراختیا ته د مساوي لاسرسی څخه د ډاډ حاصلولو په شمول لکه څنګه چې د پایښت لرونکی سولې لپاره ضروری دی د پام وړ پرمختګ مشاهده کړی. زیاترو ښځو، نارینه وو او ځوانانو تاکید کړی چې د ځینو ښکاره پرمختګونو سربیره، د میلیاردونو ډالرو د لګښت په پرتله په هیواد کې د تیرو ۱۲ کلونو په ترڅ کې لاسته راوړنی مساوي نه وی. پرمختګ نه باید یواځی د خدمتونو د مقدار، د بیلګې په توګه د جوړو شویو ښونځیو او روغتونو د شمیر بلکله د دې مهمو خدمتونو د کیفیت له مخی اندازه شي.
- افغانانو تاکید کړی چې د کاری فرصتونو را منځ ته کول په خاص ډول د ځوانانو لپاره ضروری دی.
- افغانانو یادونه کړې چې د مساوي او پایداره پراختیا دوامداره نه شتون په اغیزمنو ځوانانو او نسیتمنو بزګرو جدي اغیزې پر ځای پری ایښی دی. د ټولنې دا دوه قشرونه د لوړی بیکاری، د فرصتونو د نه شتون، بې سوادی، د مخدره توکو په وړاندی حساسیت او په ځینو ستراتیژیکو ولایتونو کې د مخدره توکو سوداګری اغیزمنه کړي. هغوي د حکومت څخه غوښتنی څو په فعالانه توګه د کاری فرصتونو په را منځ ته کولو زیات تمرکز وکړي او د ځوانانو لپاره یې د معارف په دننه کې په پراختیایي پانګونه او د دې ستونزی په هواری ټینګار کړی.
- هغوي څرګنده کړې چې د کرنی په سکټور کې، د بیلګی په توګه د ځمکی ورکول او د اوبو لګونی مناسب سیسټم به کلیوالی اقتصاد ښه کړي. د دې علاوه، خلکو واضح کړې چې دا به غوره به وی که چېرې خصوصی او دولتي تصدی ګانی، د بیلګی په توګه د رخت جوړولو،غالی جوړولو،ممیز پاکولو،تیلو جوړولو او لبنیاتو جوړولو کارخانی کاری فرصتونه را منځ ته کړي او د حکومت مناسب ملاتړ ترلاسه کړي.
- افغانانو یادونه کړې چې اکثرا زیاتره ټولنیزي شخړې د پراختیایي مرستو په اړه د نا مساوي لاسرسی څخه را ولاړیږی. نارینه، ښځی او ځوانان باور لري چې ټول افغان وګړی د دې حق لري چې په مساو ی ډول د پراختیایي مرستو څخه برخمن شی پرته له دی چې د هغوي قومیت،سیاسي روابط،د حکومت سره اړیکی، جغرافیایی موقیعت یا د هغوي په اړوندو سیمو کې د شخړو موجودیت په پام کی ونیول شی. د مباحثو ګډونوالو د هیواد په کچه د ارزیابی په کارولو ټینګار کړی څو د پراختیایي مرستو د موثریت د زیاتولو په موخه د پراختیایي پروژو څخه نظارت وکړي.
- په ټولیز ډول، افغانانو د هغوي په سیمو کې د پایداره پرمختګ د حاصلولو په موخه یو لړ ریښتینی وړاندیزونه وړاندی کړل. د یو شمیر ولایتونو د کرنیز خصوصیت له امله، یو شمیر ګډونوالو باور درلود

چې پراختیايي مرستې باید د اوبو د هایډرو انرژۍ د بندونو په جوړولو ولګولی شي. د هغوي په ګمان به دا کار د وچکالی په له منځه وړلو، د کارونو د را منځ ته کولو په برخه کې او همدارنګه د هغوي په ولایتونو کې د انرژۍ د دوامداره تدارک د برابرولو په برخه کې د پام وړ مرسته وکړي.

## ۸) د سولې په پروسه کې له شمولیت څخه ډاډ

- د خبرو اترو د پروسې په اوږدو کې، عادي افغانانو په پراخه کچه ټینګار کړی چې د سولې او پخلاینی په پروسو کې د پراخ ګډون څخه ډاډ حاصلول، د نارینه وو،ښځو، ځوانانو او لږکیو د ډلو لخوا د ګډون په شمول- د پروسو د بریالیتوب لپاره ضروری دی. خلکو باور درلود چې د مدني ټولنې، ښځو او په عنعنوي لحاظ د ټولنې د تجرید شویو عناصرو پراخ ګډون به د شمولیت او د پروسې د ځایي مالکیت څخه په ښه توګه ډاډ حاصل کړي.
- یو شمیر افغانانو اندیښنه څرګنده کړې چې دوی په ځایي حکومتداری ک یبرخه اخیستلو ته نه هڅول کیږی  او فکر کوي د سولې هڅی بې اثره کیږي. کیدای شي د ځوانانو د محرک کونکو پروګرامونو یا د استخدام د پالیسی ګانو د معرفي کولو لهطرحې چې موخه یې ځوانان وی،د دوی ډیر شمیر په ځان را مات کړي.

## ۹) د ټولنې پر اساس د شخړو د حل لارو د میکانیزمونو پیاوړی کول

- ګډونوالو همدارنګه یادونه کړې چې د خلکو د رهبري لهطرحې افغانان د جرګو او شوراګانو په واسطه د شخړو او ځایي منازعاتو د حل یو قوی کلتور لري. دوی په عمومی توګه باور لري چې د شخړو د حل د داسې ځایي میکانیزمونو پیاوړی کول ښایی چې په یو ډول د خلکو،د ښځو او نژادی لږکیو په شمول ګټو ته کار وکړي، دا به سیاسي او ټولنیزه فضا ایجاد کړي چې د هغی په دننه کی عادي وګړی د یو بل او په جګړو ک ید ښکیلو خواوو سره د سولی په یوه دیالوګ کی شاملی شی.
- یو شمیر افغانانو خبرداری ورکړي چې جرګی او شورا ګانی نه باید د بشري حقونو د جدي سرغړونو د فیصله کولو په موخه د فورمونو په حیث کار وکړي.

## ۱۰) د سولې د ویجاړونکو خنثی کول

- د دې په خاطر چې د سولې د ویجاړونکو منفي اغیزو ته ځواب وویل شي، افغانان د پوځ د پخوانیو جنګیالیو او همدارنګه د سولې د پخلاینی د پروسې د مشرانو لپاره د عینی خصوصیاتو پربنسټ په کلکه د بررسی طرفداری کوي. افغانان د هیواد په کچه باور لري، هغه کسان چې د سولې په پروسه کې ښکیل دی باید صادق او د نفوذ درلودونکی کسان  و اوسی او همدارنګه په خپلو ټولنو کې د درناوی وړ او په دیوکراتیکه توګه انتخاب/انتصاب شوی وی. د دې علاوه، خلکو په کلکه وړاندیز کړی، هغه کسان چې د جنګی جرمونو او د بشریت ضد جرمونو په ارتکاب تورن وی باید د سولې د پروسې څخه و ایستل شي.
- هغه افغانان چې په سرحدي ولایتونو کې ژوند کوي د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه وکړه څو د هیواد د خوندیتوب لپاره نورې هڅی ترسره کړي او هیواد ته د وسله والو ډلو د ننوتو مخه ونیسی. افغانانو د ګاونډیو هیوادونو د حکومتونو څخه وغوښتل څو د پوځي ډلو د مادی ملاتړ(وسلو او پټنځایونو) د برابرولو څخه لاس واخلي.